# د ملي اقتصاد څانګې آمر پیغام

د هیواد ملي اقتصاد په بیلابیلو برخو کې د زیاتو مشکلاتو سره مخ دی؛ د بیلګې په توګه واردات د صادراتو په نسبت په مراتبو زیات دي، د بیکارۍ او بیولوزۍ کچه لوړه ده، خارجي پانګونه کمه ده، د خلکو سرانه عاید کم دی او د هیواد اقتصاد زیاتره برخه د خارجي مرستو څخه منشاء اخلي؛ نو په همدې دلیل د ملي اقتصاد دیپارتمنت استادان په ټول توان هڅه کوي، چې د هیواد د دوامداره اقتصادي او ټولنیزپرمختګ په موخه د هیواد ځوانان په ملي روحیه وروزي.

د ملي اقتصاد دیپارتمنت نه یوازې دا چې په اقتصادي برخه کې د ځوانانو روزل خپل مسوولیت ګڼي؛ بلکې د نورو ارګانونو او نهادونو سره د اړتیا او غوښتنې له مخې مشورتي رول لري ؛بناءً د دیپارتمنت کادرونه د دولتي دوایرو او اقتصادي نهادونو سره د پلان جوړونې او غوره مدیریت په برخه کې اغیزناکې مشورې شریکوي.

د ملي اقتصاد دیپارتمنت به د ځوانانو/محصلانو د ښې روزنې لپاره د ذی دخل دوایرو او تولیدي کمپنیو سره تواميتونه لاسلیک کړي او پدې ډول به ګران محصلان په اړوند رشته کې د فراغت څخه تر مخه لازمه کاري تجربه او مهارت ترلاسه کړي؛ څو وکولای شي چې د کار په بازار کې په اسانۍ سره دنده ترلاسه کړي.

د دې ترڅنګ، د وزارت مقام او پوهنتون د رهبرۍ په مرسته او همکارۍ به د استادانو د ظرفیت لوړونې په موخه، د هیواد د معتبرو پوهنتونونو او یو شمیر نړیوالو پوهنتونونو سره د ګډې همکارۍ تواميتونه لاسلیک کړل شي او پدې ډول به د ملي اقتصاد دیپارتمنت کادرونه د ماسترۍ سربیره د دوکتورا زده کړو څخه هم برخمند شي، چې له امله به یې د محصلانو د د زده کړو په کیفیت کې هم په دوامداره توګه لوړوالی راشي.

د پرمختللی او خود کفاء افغانستان په هیله

پوهنمل خالد پشتون

د ملي اقتصاد دیپارتمنت آمر

